افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com   afgazad@gmail.com

Children	کودکان

مخکښ شهید

لیکنه:لوچیاپن   ژباړه:فرهاد ویاړ



مخکبن شهید
لوچیاپن
ژباړه : فرهاد ویاړ
خپرندویه: سیند خپرندویه

لیوون – هسو په یوه بیوزله کورنۍ کې نړۍ ته راغی. د لیو پلار خیاط وو، خو د آزادۍ څخه مخکې یې ژوند په یخنۍ، سختۍ او ولږې سره تیر کړ.

د کوچني ون- هسو د ژوندانه پیل له کړاو او رنځونو سره مل وو. یوه ورځ چې د ونګ د مالټو د بڼ له خوا تیریده، د بڼ مالک په هغه د غلا تور ولګو او ډیر زیات یې ووهو. زموږ دې ګران کوچني خپلې اوښکې پاکې کړې، خو هغه کرکه چې له ارباب څخه په زړه کې اخیستې وه، هیڅکله یې هیره نکړه.

د ون – هسو پلار یو صادقه سړی وو او له غریبۍ سره سره حاضر شوی نه وو چې مالک ته تریاک خرڅ کړي. د همدې لپاره بیرحمه ارباب او «د سولې ساتونکي لښکر» هغه زندان ته واچو.

د هسو مور، خپل زوي زندان ته بوتلو چي خپل پلار ووينې؛ هغه پلار چي له بدن څخه يوازې پوستکي او هډوکی پاتی وو. په داسي يو تولني کي بيچاره ګانو چا ته کولاي شول خپل شکايت وکړي.

بالاخره غریبي دومره د دې کورنۍ وضعیت خراب کړ، چې د هسو مور مجبوره شوه د کار لپاره د ارباب کور ته لاړه شي. کله چې به هسو تللو چې خپله مور هلته ووینې، د ارباب ښځې به هغه ته د ننوتلو اجازه نه ورکوله او خپل داړونکی سپې به یې هغه پسی ورکشی کو.

تر دې چې بالاخره يوه ورځ سپي هغه وخړو. شليدلي شليدليې جامې ورته لا وشلولی او د پښې يو دوه ځايونه ورته هم ژوبل کړل.

په ۱۹۴۹ کال کې کمونیست ګوند د مرتجعینو د ړنګولو لپاره د هیواد ټول وګړي رهبري کړل.
هغه کلی، چې لیوون – هسو په کې ژوند کاوه، هم آزاد شو. هسو چې له خوشالي په جامو کې نه ځایده، په لیوالتیا د پوځ هرکلي ته لاړ.



یو شمیر کسانو د ارضي اصلاحاتو د پلي کیدو لپاره د کلیو لاره ونیوله او د کلیوالو منځ ته لاړل.
هغوی له غریبانو سره اړیکې ونیولې او د کلیوالو د تیرو دردونو او رنځونو په اړه یې پوښتنې کولې او ولسونه یې د اربابانو په وړاندې مبارزې ته وهڅول.

د مبارزې په غونډه کې، هغه کليوال چې په بيرحمۍ استثمار شوي ول، بيوزله او د ستم تر لاندې دهقانانو او همدا شان د منځني طبقې کروندګرو د اربابانو له جنايتونو پرده پورته کړه.

ليوون ـ هسو خپله پښه چې د ارباب سپي داړلی وه، وښوده. هغه همدا شان توضيح ورکړه چې ځرنګه اربابان بې له کوم علته بيچاره خلک وهي.

په دې وخت کې ناڅاپي د غونډې له منځه يو غږ راپورته شو:«مړه دې وي اربابان!» د طبقاتي دښمن په وړاندې د جګړې لپاره، ځواکمنې مبارزې په بشپړ ډول شکل وموند او پياوړی شوه.



ارضي اصلاحات په بریالیتوب پای ته ورسیدل. بیوزله کلیوال د ځمکي ښښتن شول او په خپلو ځمکو یي کار کاوه.

د لیوون ـ هسو کورنۍ ته هم یوه ټوټه ځمکه او یو کور چي د ژوندانه لپاره یي بس وه، ورسیدل.

د انقلاب څخه مخکې، د ښوونځیو ورونه د غریبو ماشومانو په مخ تړلي ول. اوس کوچنی ون هسو نوې جامې اغوستلې، بکسه یې اوږې ته اچوله او ښوونځي ته روانیدو.

ون ـ هسو په سرلوړۍ د ځوانو مخکښانو سره یوځای شو. سور دستمال يې غاړې ته وتړو او تابیه يې وکړه چې «ښه مطالعه وکړي او هره ورځ یو ګام مخې ته کیږدي» څو یو وړ مخکښ شي.



د هغه ځای د ګوندي ناحيې سرپرست، کاکا يو، يو متقاعد پوځي وو. هغه به اکثراً ماشومانو ته له جګړې او انقلاب څخه داستانونه ويل.

د لیوون - هسو د مبارزو او زړرو کسانو داستانونه ډیر زیات خوښیدل، لکه: د هوانګ چي – کوانګ داستان چې ځرنګه نوموړي خپل ځان د دښمن د ټوپک په ماشه واچو؛ د تونګ تسون - جو داستان چې څنګه يې د دښمن د جبهې په منفجرولو سره ځان هم قرباني کړ او همدا ډول د لیو هو- لان داستان چې دښمن ته د تسلیمدو پر ځای يې ترجیح ورکړه ځان قربان کړي.

لیوون - هسو د دې داستانونو څخه د اتلوالۍ او میړانې درس زده کاوه.

د آزادۍ ښخه مخکې ژوند له کړاونو ډک وو، خو اوس د خوشالۍ روزګار راغلی وو. هر څومره چې به د هسو په تن کې د وطن او ولس سره مینه او شوق زیاتیده، په هماغه اندازه به یې له اربابانو سره کرکه پیدا کوله. یوه ورځ یې د خپلو ورځني یادونو په یوې پاڼې کې داسې ولیکل: «زمونږ د هیواد هر ماشوم ښایي د ولسونو د خدمت لپاره قدم پورته کړي.»

په ۱۹۸۵ کال کې کله چې په کليو کې ولسي ټولنې جوړې شوې، ليوون هسو د دې ټولنو له غړو سره اوږه په اوږه په توليدي کارونو کې فعاله رول ولوبو.

يوه ورځ کله چې هغه په کروندې کې کار کاوه، وې ليدل چې ارباب په کرونده کې ګټې اچوي او غواړي چې کرونده خرابه کړي.



ليوون - هسو ارباب د ګوند ناحيه اى چارواكي ته له ځان سره بوتو او ارباب هلته په خپلې خرابكارۍ اقرار وكړ.

د ګوند ناحیه ای چارواکي، د لیوون - هسو د کار ستاینه وکړه:

ـ لیوون - هسو، ډیر ښه کار دې وکړ. مونږ باید ټل د ولسي ټولنو له ګټو څخه ملاتړ وکړو!

کله چې په ولسي کرونده کې بوټو مرچ وکړل، لیوون - هسو د ولسي ټولنې له نورو غړو سره یوه غرمه د مرچو د شکولو لپاره ولاړ، چې سبا وختي یې بازار ته د خرڅ لپاره ویسي.

کله چې د ټولنې غړي د مرچو په شکولو بوخت ول، ارباب واګ د مرچو هغې خوا کروندې ته لاړ.

ليوون - هسو په خوښۍ او ښادۍ سره ټوکرۍ يو په بل پسې له مرچو ډکولې چې د ګوند ناحيه اى چارواکي ورته وويل: مور دې تا ته په تمه ده او ښه به دا وي چې کور ته ستون شى او له هغې سره مرسته وکړى.



ليوون - هسو د كور لاره ونيوله او په داسي حال كي چي ټول فكر يي مور ته اوښتي وو، لږ څه
نور يي هم خپل قدمونه تيز كړل.

ناڅاپي يې په لاره کې يو تور هيکل وليد چې په سيوري کې حرکت کوي، له ځان سره يې ووېل دا څه کيداى شي؟

دا ارباب وانګ وو چې مرچ يې غلا کول! ليوون – هسو ورباندې چيغه کړه:

ـ ای وانګ جونګ هسو، دا ته يې چې بيا هم د ولسي ټولنې مال غلا کوئ!

ارباب، لیوون – هسو ولید، ارباب د لیوون څخه کرکه درلوده او ترې ډاریده. ارباب کوښښ وکړ چې وتښتي، خو لیوون - هسو یې مخه ونیوله.

لیوون ـ هسو د ارباب وانګ په ټوکرۍ کې مرچو ته اشاره وکړه او په قهر یې وویل:
ـ دا دې غلا کړي دي! تا خو د خلکو مال غلا کړی دی!

ارباب وانګ مصنوعي غوندې خندا وکړه او څو روپيۍ يې د ليوون - هسو په لاس کې ورکړې او په زارۍ يې ورته وويل:

- وګوره، پرې مې ږده چې لاړ شم. دومره خبره نه ده، لږې شان پيسې دي، لاړ شه او ځان ته يوه څه خوږه واخله.

ليوون - هسو پيسې د ارباب په مخ وويشتې او وې ويل:

- مرداره، فکر کوې چې کولاى شې ما سره معامله وکړې!

لیوون - هسو په ډېر زړورتیا له ارباب سره مخامخ شو.

ـ د ولس مال غلا کوئ او بیا هم غواړئ چې یو زلمی مخکښ وغولوئ.

یا اله حرکت وکړه چې د عمومي امنیت ادارې ته لاړ شو.

لیوون - هسو دا وویل او د ارباب گریوان یې ونیو.

خو ارباب، لیوون - هسو ته ګواښ وکړ:

- لاس دې لیرې کړه یا نه وژنم دې.

لیوون - هسو په کلکه ځواب ورکړ:

- زه له تا نه، نه ډاریږم!

هیڅکله به پرې نه ږدم چې ستا غوندې چټل غل له ما وتښتي.

ارباب وانګ، د لیوون - هسو لاس ونیو او په رښتیا یې غوښتل چې وې وژني
خو هغه لا هم چیغه وهله:
- یا اله ژر! اوس دې کار دې ځای ته ورسید چې مرچ غلا کوئ!

ليوون - هسو په ډيرې ميړانې له ارباب سره مبارزه کوله.

خلکو شورماشور واورید او د کروندې خوا ته روان شول. مگر هغوی لږ ناوخته ورسیدل، ځکه چې لیوون - هسو په ۱۴ کلنې کې په میړانې خپل ژوند له لاسه ورکړی وو.



د ولسي ټولنې جنګیالیو هماغه شپه له ښارني وروسته ارباب وانګ ونیو څو د ځوان اتل غچ ورڅخه واخلي.

ليوون ـ هسو د خلکو د مال څخه د دفاع په لار کي خپل ځان له لاسه ورکړ او شهيد شو. بله ورځ د ارباب وانگ ښکاره محاکمه جوړه او قاتل په اعدام محکوم شو.

د دې ځوان او ميړني قهرمان سرگذشت، چې د ولس په لاره کې شهيد شوی وو، په لږه موده کې په ټول هيواد کې خپور شو. په هر گوټ کې پيغلو او ځوانانو د هغه له داستان څخه زده کول چې گوند او سوسياليزم گران ولري او د خپلې انقلابي روحيې په پالنې کې هلې ځلې وکړي او د يوې بې طبقاتي ټولنې د جوړيدنې لپاره د طبقاتي دښمنانو په ضد په ميړانې سره مبارزه وکړي.

“سیند خپرندویه” خپاره کړي دي:

1. د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ
2. دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قرباني، ژباړه: مرينه سحر
3. د یوه شاعر اندیښني، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ
4. یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام ـ سپيڅلی
5. مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ
6. مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنين، ژباړه: هاشم سهار
7. لیو هولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ
8. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک
9. ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ
10. اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي
11. کوراوغلو او ګنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي
12. د دیالکتیك ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ
13. ـ زما ګیتار! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ

خپریږي:

د ویتنام حماسه، د امریکې رسوایي

W